پوهندوی آصف بهاند

# ډاکټر بادام شفق

## د کار او زيار نه ستړي کېدونکې بېلګه



Dr.B.Shafaq

ما (آصف بهاند) تل هڅه کړې ده چې د نوي نسل د سالمې روزنې په خاطر مقالې او کتابونه وليکم. زما د دې مقالو يوه لړۍ «ژوندي يادونه نومېږي. د دې مقالو په ترڅ کې ما له پيل نه تر اوسه پورې هڅه کړې چې د داسې فرهنګي علمي څېرو پر ژوند او اثارو باندې څه وليکم چې د هغوی اثار او افکار د نوي نسل لهپاره د يوې ښې او نمونه تجربې بڼه ولري، څو د نوي نسل له پاره د يو ښه سرمشق په توګه وځلول شي. په دې مقاله کې، د داخله ناروغيو متخصص ډاکتر بادام شفق د ژوند پرځينو اړخونو څو خبرې لرم چې له تاسو درنو لوستونکو سره يې شريکوم.

ډاکتر بادام شفق د افغانستان د تاريخ هغه علمي فرهنګي څېره ده چې د افغانستان او اروپا له ډېرو سختو شرايطو او ازموينو نه بريالی راوتلی دی.

د افغانستان د يوې لرې سيمې اوسېدونکی بادام شفق د خپلې ټولنې په ډېرو سختو شرايطو کې له سختو ازمويونو بريالی راووت او د هجرت په دومره ستونزو او کړاوجنو حالاتو کې د خپل لياقت او تجربې په کارولو سره وتوانيد چې په ډنمارک کې د خپل مسلک (طب) سره سم ځانته کار او سم کاري چاپېريال پيدا کړي. په دې لاره کې يې، د خپلې کاري دورې په ترڅ کې دومره بريالي ګامونه واخيستل چې حتی ترقانوني تقاعد

وروسته هم په کاري ځای کې د ده کار ته اړتیا محسوسه وه، د همدې اړتیا له مخې ډاکتر شفق یو څه نوره موده هم په کار کې پاتې شو.

**اوس د همداسې یو زیارکښ ډاکتر بادام شفق پېژندنې ته پام وکړئ:**

د ډاکتر بادام شفق بیوګرافي مې په بل ځای کې پیدا نه کړه، نو مې له ده غوښتنه وکړه چې په دې برخه کې مرسته راسره وکړي، ده هم خپله مفصله بیوګرافي راولېږله چې ځینې برخې یې دا دي:

«ډاکتر بادام شفق د غلام حسن ساپي ځوی دی چې په ۱۳۳۲هجري لمریز (۱۹۵۳ میلادي) کال کې د افغانستان د کونړ ولایت د نرنګ ولسوالۍ اړوند، د باډېل درې د غازي خان غونډۍ په کلي کې زیـږیدلی دی.

ده خپلې لومړنۍ دیني زده کړې د خپل پلار او د خپل کلي د ملا نه شروع کړې، څوپدې هیله چې ښونځي او د عصري علومو زده کړو ته لار ومومي. په ۱۳۴۱ ل (۱۹٦۲ ع ) کال د څوکۍ په ولسوالۍ کې، د مسعودوکلي ته لاړ او هلته یې د استاد رحمت‌الله خان (ساپي) څخه دیني او عصري زده کړې پیل کړې. یوکال وروسته ئي د دریم ټولګي د سوئي (سامع) ازموینه ورکړه او په ۱۳۴۲ ل ( ۱۹٦۳م) کال کې د څوکۍ ولسوالۍ د لومړني ښوونځي په څلورم ټولګي کې شامل شو، یوکال وروسته ئي د نرنګ ولسوالۍ (چې هغه وخت علاقداري وه)، لومړني ښونځي ته ځان تبدیل کړ.
نوموړي دوه کاله په ډېر زحمت د خپل کلي څخه تر مکتب پوري هره ورځ ډېره اوږده فاصله پیاده تګ راتګ کاوه.

بادام شفق په ۱۳۴۵ ل (۱۹٦٦م) کال کې د ننګرهار په دارالمعلمین کي د داخلیدوپه ازموینه کې چې ډیرزیات شمیر شاګردانو پکې ګډون کړی وو، ترټولو شاګردانو لوړې نومري واخیستې او د دغه دارالمعلمین په اوم‌ټولګي کې شامل شو. نوموړی دننګرهاردښوونکو دروزنې په عالي موسسه (دارالمعلمین) کې د تحصیل په دوره کې همیشه ممتاززده کوونکی او د خپل ټولګي اول نومره شاګرد و.

هغه د ننګرهار په دارالمعلمین کې د زده کړو په وخت کې په کلتوري فعالیتونو، لکه ډرامو، مشاعرو اومیټینګونو کې فعاله ونډه آخیسته.

شفق د ۱۳۴۹ ل (۱۹۷۰م ) کال د اوړي په درې میاشتنۍ رخصتۍ کې د یولسم ټولګي د مضامینو ټول کتابونه د ځانه سره بیله ښوونکي او بل چا له مرستي ولوستل او د اوړي د رخصتۍ په اخر کې ئي د یولسم تولګي د سوئي ازموینه په بریالیتوب سره تیره کړه او د ښونمرو په اخیستو راساً دولسم ټولګي ته شامل شو، د ۱۳۵۰ لمریز(۱۹۷۱م) کال د جوزا په میاشت کې د ننګرهار د ښونکو د روزنې د عالي موسسي (عالي دارالمعلمین ) د دولسم ټولګي څخه عمومي اول نومره فارغ شو.

بادام شفق د۱۳۵۰ ل(۱۹۷۱ م) کال د پوهنتون د کانکور په ازموینه کې خپل لومړنی انتخاب یعني د ننګرهار طب پوهنځي ته په ډېرو ښو نومروبریالی شو.

بادام شفق د ډیرو اقتصادي  مشکلاتو سره ـ سره خپل عالي تحصیلات سرته ورسول او د خپلې منطقي د نوروځوانانو د تشویق او ترغیب سبب شو، چې ښوونځي ته لاړ شي او وروسته عالي تحصیلاتو  ته مخه کړي.

بادام شفق د ننګرهار له طب پوهنځی څخه د ۱۳۵۷  لمریز (۱۹۷۸ م) کال د مرغومي (جوزا) په میاشت کې اول نومره فارغ  شو او تر فراغت وروسته سمدستي د همدغه پوهنځي د داخلي ناروغیو  په څانګه کې د علمي کدر د غړي په توګه ومنل شو.

د ۱۳۵۸ ل (۱۹۷۹م) کال په وروستیو کې د کابل طب پوهنځي د داخلې په څانګه د علمي کدر د امتیاز په ساتلوسره د علي آباد روغتون د داخله ناروغیو په څانګه کې مقرر شو.

په ۱۳۵۹ ل(۱۹۸۰ م) کال کې د افغانستان د وسله‌والوځواکونود طبي علومو د اکاډمۍ (چې اوس  محال د سردارمحمدداوخان روغتون په نامه یادیږي) د داخله ناروغیو په څانګه کې په دنده وګمارل  شو.

 له ۱۳٦۱ ل (۱۹۸۲م) څخه تر ۱۳٦۳ ل (۱۹۸۴ م) کال پوري بې د کورنیو چارود وزارت د روغتیاېي چارو د ریاست د مرستیال په توګه دنده درلوده.

د۱۳٦۳ ل  (۱۹۸۴ م) کال په پای کې د فاریاب ولایت د څارندوی (پولیسو) د روغتیاېي چارو د آمر په توګه په دنده وګمارل شو.

په ۱۳٦۸  ل (۱۹۸۹ م) کال کې د کورنیو چارو وزارت د دوه سوه بستره‌یز مرکزي روغتون د قوماندان (رئیس) په توګه مقرر شو.

ډاکتر شفق د ۱۳۷۱ ل (۱۹۹۲م) کال په کورنیو جنګونو کې د رسمي دولتي دندي پرېښودو ته اړ شو.

له  ۱۳۷۱ ل ( ۱۹۹۲ م) څخه تر ۱۳۷۸ ل (۱۹۹۹م) کال پورې یې په خپل شخصي کلینیک کې کار کاوه او د ۱۳۷۸ ل (۱۹۹۹  م) کال  په اواخرو کې ډنمارك هیواد ته مهاجر شو.

د ډنمارک هیواد د قوانینو له مخي ټول هغه ډاکتران چې د غربي اروپا د هیوادو او د امریکا د متحده ایالاتو څخه پرته د نورو هیوادو څخه ډنمارک راځي، هغه وخت  په ډنمارک کې د ډاکتر په حیث د کار اجازه ورکول کیږي، چې تحصیلی اسنادئي د ډنمارک د دولت روغتیائي اداره (Sundhedsstyrrelsen) تائید کړي، د ډنمارک  د روغتونونو په مختلفو څانګوکي  شپږمیاشتنۍ  آزمایښتي دوره تیره کړي اولاړښود متخصصین او د سرویسومشران ئي د ډاکتر په حیث  مسلکي  وړتیا تثبیت او تصدیق کړي. د طب د ټولو کلینیکي مضامینو په تحریري او شفاهي ازموینو کې  کامیاب او د ډنمارکي ژبي په  تحریري او تقریري آزموینو کې په ښو نمرو بریالی شي.

ډاکترشفق د ټولو پورتنیو مرحلو تر تیرولووروسته  په  ۱۳۸۳ل (۲۰۰۴ م) کال کې په  ډنمارك  هیواد کې  د ډاکتر په‌حیث  قبول او د کار اجازه ئي تر لاسه کړه. له هغي نیټې  وروسته بې د ډنمارک هیواد په دولتي روغتونونو کې رسمي دنده درلوده.

ډاکتر شفق د طبابت په مقدس مسلک کې د۴٦ کلونو خدمت کولووروسته، د۷۰ کلواوشپږمیاشتو په عمر، د ۱۴۰۳ لمریز کال د جوزا د میاشتې په۱۲ نیټه (۱۹۲۴م، دجون اول) په رسمي ډول خپل تقاعد واخست.

ډاکتر بادام شفق د داخله ناروغیو متخصص دی او د افغانستان په ملي پښتو ژبې یې په لاندي نومونو مسلکي کتابونه او زیات شمیر تحقیقي طبي مقالې لیکلي او نشرکړیدي:

۱- مزاجي ناروغۍ (خفگان او مست لیونتوب)، دانش مطبعه، ۱۳۹۰ ل کال / ۲۰۱۱ م،

۲- دماغي سکتې، د افغانستان د ملي تحریک فرهنگي څانگه،۱۳۹۴ ل کال/۲۰۱۵ م،

۳- خپگان، مست لیونتوب او بیخوبي، د افغانستان د ملي تحریک فرهنگي څانگه،۱۳۹۴ ل کال/۲۰۱۵ م،

۴ـ د تنفسي ناروغۍ او توبرکلوز په نوم، د پوهاند محمدناصر (شینواري) پر اثرباندي نوی نظر، له نوو زیاتونو او سمونوسره، څلورم چاپ او نشر ته تیارول، ۱۴۰۲ ل کال/۲۰۲۳،

۵ـ ځما د ژوند رښتینې قصه، ناچاپه اثر.




ډاکتر شفق د طبابت په څنگ کې، مدني ـ اجتماعي فعا ل هم دی، له خپل وطن او خلکو سره زیاته مینه او خواخوږي لري. هغه د مهاجرت په شرایطو کې هیڅکله خپل گران هیواد او خپل بي وزلی ولس له یاده ندی ایستلی.

هغه پخپل وطن کې داخلي جنگونو، دسیاسیونوپه منځ کې دچوکیو اومقامونو په سر شخړو اوسیالیو، دبیت المال د پیسواودارائي غلا اوچور، د دولتي ځمکو، معادنو او ځنگلونو غصب او چوروچپاول، اداري فساد، د افغانستان د ورونو قومونو ترمنځ بي اتفاقیو ته لمن وهلو، خارجي مداخلو، د نجونو او ښځو په تعلیم، تحصیل، کار او اجتماعي ژوند کې په خنډونو او بندیزونو او د وطن وروسته پاتې والي باندي خورا ډیرزوریږي.

هغه د ډنمارک هیواد د اغوس په ښارکې د افغانانو د یووالي او فرهنگي خدمتونو لپاره (د افغانانو د یووالي او پیوستون فرهنگي مرکز) په نامه یوه ټولنه جوړه کړیده او غواړي چې د مهاجرت په شرایطو کې له یوي خوا له دې لاري خپلي ژبي او خپل اصیل افغاني کلتور او فرهنگ ته خدمت وکړي، خپل ملي افتخارات ژوندي

وساتي، نوي افغان نسل ته يې معرفي او ورانتقال کړي او له بلي خوا ډنمارکيانو او نورو خارجيانو ته خپل اصيل افغاني فرهنګ ور وپېژني.

ډاکتر شفق يوځوي او پنځه لوڼې لري. چې ټولو اولادونو ئې په ډنمارک هيواد کې لوړي زده کړې تر سره کړئې دي او ټول ئي په ډنمارک هيوادکې رسمي دندې لري. ځوی ئي د زړه د ناروغيو متخصص دی، دوې لوڼې ئي د داخله ناروغيو متخصصې ډاکترانې دي، دوې لوڼې ئي په ښونځيو کې ښوونکې دي او يوه لور ئي د اجتماعي امورو مشاوره ده. ټولو اولادونو يې ودونه کړي او خپل مستقل ژوند، کورنۍ او وظايف لري.»

اوس به د ډاکتر بادام شفق د ژوند او فعاليتونو پر بېلابېلو برخو باندې تم شو او وبه ګورو چې ده کوم او څه ډول کارونه ترسره کړي دي:

### ۱ــ طبيب بادام شفق:

کله چې بادام شفق د ننګرهار له طب‌پوهنځی څخه فارغ شو، د وطن په بېلابېلو ځايونو کې يې د طبيب په توګه د خپلو هېوادوالو درملنه وکړه:

ــ د کابل د علي‌اباد روغتون په داخله سرويس کې،

ــ د سردارمحمدداوخان روغتون د داخله ناروغيو په څانګه کې،

ــ د فارياب ولايت د څارندوی (پوليسو) د روغتياېي چارو د امر په توګه،

ــ د کورنيو چارو وزارت د دوه سوه بستره يز مرکزي روغتون رئيس په توګه،

ــ د تنظيمي واکدارۍ په موده يې له ۱۹۹۲ تر ۱۹۹۹م پورې د خپل شخصي کلنيک په چوکاټ کې د خلکو درملنه او خدمت وکړ.

ــ له ۲۰۰۴ ام کال څخه تر ۲۰۲۴ ام کال پورې دډنمارک هېواد په دولتي روغتونونو کې په درملنه بوخت و.

د طبابت په ډګر کې، ډاکتر بادام شفق له خپل مسلک او انسانيت ته له خدمت سره دومره مينه درلوده چې په ډنمارک، د خپل خدمت په دوره کې پرته له رخصتۍ په متواتر ډول په روغتون کې پاتې شو او پرته له ستړيا يې کار وکړ.

### ۲ ــ د بادام شفق ټولنيز او فرهنګي کارونه:

د ډاکتر بادام شفق په بيوګرافۍ کې راغلي دي چې: «هغه د ډنمارک هيواد د آغوس په ښار کې د افغانانو د يووالي او فرهنګي خدمتونو لپاره (د افغانانو د يووالي او پيوستون فرهنګي مرکز) په نامه يوه ټولنه جوړه کړيده او غواړي چې د مهاجرت په شرايطوکې له يوې خوا له دې لارې خپلې ژبې او خپل اصيل افغاني کلتور او فرهنګ ته خدمت وکړي، خپل ملي افتخارات ژوندي وساتي، نوي افغان نسل ته يې معرفي او ورانتقال کړي او له بلي خوا ډنمارکيانو اونوروخارجيانو ته خپل اصيل افغاني فرهنګ ور وپېژني.»

د دې ټولنې مسؤلین وایي چې دوی دا لاندې فرهنګي فعالیتونه ترسره کړي دی:

«... باید وویل شي  چې مونږ د فرهنګی مرکز لخوا په لسګونو فرهنګی غونډې، او مشاعري جوړې کړي، د ملي او بین‌المللی ورځو لکه د استقلال د جشن، نوروز او د ښځو د ورځو لمانځنه مو کړي، او د لوړو زده کړو او پوهنتونو څخه د فارغ شوو افغان محصلینو لپاره  مو د نورو ځوانانو د تشویق په خاطر تشویقی غونډې جوړې کړي دی.
همدارنګه مو د یوشمیر لیکوالانو د تشویق په خاطر د هغوی د چاپ شوو اثارو لپار د مخکتنې غونډې جوړې کړیدی.
د پورته فرهنګي فعالیتونو ترڅنګ مو په افغانستان کې د طبیعي پیښوقربانیانو او تاواني شوو وطنوالو لپاره نقدی مرستې راټولې کړې او لیږلې دي.»

ډاکتر بادام شفق د یادې فرهنګي ټولنې (د افغانانو د یووالي او پیوستون فرهنګي مرکز) لومړنی انتخابي رئیس و چې تراوسه هم د همدې ټولنې په چوکاټ کې خپل فرهنګي فعالیتونه پر مخ بیایي.

ښاغلي احسان‌الله وفا په خپل کتاب «د کونړ غمي» کې د ډاکتر بادام شفق د علمي ــ فرهنګي شخصیت په باب داسې لیکلي دي:

«ډاکتر بادام شفق» د پښتوژبې یوورک خادم، د پښتني فرهنګ د بډاینې او دودونې یو ارمانجن چې د ادبي او فرهنګي شخصیت ورهاخوا زموږ د افغاني طبي اسمان یوه پخه ستن هم بلل کېږي، د افغانستان د یودردمند او خواخوږي بچي په توګه یې له پخوا راهیسې د خپلې ژبې او ادب د ځلونې له‌پاره متې رابډوهلې دي او کار کوي...

بادام شفق که څه هم د طب ډاکتر دی، خو په فرهنګي برخه کې هم فعال دی، ادبي او تاریخي لیکنې هم کوي...»

(وفا احسان‌الله، د کونړ غمي، خپرندوی: د افغانستان د مطالعاتو مرکز، ۱۴۰۲ ام کال، ۲٦ ــ ۲۸ مخونه)

### ۳ ــ ښوونکی او مدرس بادام شفق:

ډاکتر بادام شفق د ۱۹۷۸  م کال د ننګرهار له طب پوهنځی څخه له تر فراغت وروسته، د خپل پوهنځي د داخلي ناروغیو په څانګه کې د علمي کدر د غړي په توګه ومنل شو. د ۱۳۵۸ ل (۱۹۷۹م) کال په وروستیو کې د کابل د طب پوهنځي د داخلې څانګې په علمي کدر کې خپل تدریسي علمي کار پیل کړ.

ډاکتر بادام شفق په دواړو پوهنتونونو (ننګرهار پوهنتون او کابل پوهنتون) کې د خپل تدریسي ماموریت په ترڅ کې د وطن د اولادونو په روزلو کې، د وطني او انساني مینې له مخې په سلګونه شاګردان وروزل.

### ۴ ــ بادام شفق د سیاست په ډګر کې:

بادام شفق له تاندې ځوانۍ څخه سياست په دې هيله راپيل کړ چې ښايي وکولای شي د افغانستان د خوارو او بيوزلو خلکو له پاره د داسې ټولنې په جوړولو کې مرسته وکړي چې د خلکو ژوند په انساني بڼه او له ارامتيا سره مل وي، خو دا هر څه د ناروغو سياسيونو او د ناروغې ټولنې د ستونزو داسې قرباني شول چې نه يوازې د ډاکتر بادام شفق هيلې ترسره نه شوې، بلکې د ده سياسي کارونو د ده پر مسلکې، علمي، اداري او شخصي ژوند باندې هم منفي سيورى وغوړاوه، دى يې متضرره او له ګڼو ستونزو سره مخ کړ.

ډاکتر بادام شفق د يوه انساني مرام په چوکاټ کې د افغانستان د رنځېدلو خلکو نيکمرغي غوښتله، خو له بده شامته چې د ځانغوښتونکو سياسی رهبرانو د تېروتنو او پرلپسې سياسي ــ نظامي بدلونو په پايله يې ټولې انساني او وطنی هيلې خاورې ايرې شوې.

په سياسي مسايلو کې ښاغلی بادام شفق د يوه منځلاري فکر پيرو او د عدم تشدد فلسفې پلوی دی. دی په خپلو سياسي پيامونو او ويناو کې تل د اتحاد او اتفاق خبره کوي او غواړي خپلو مخاطبينو ته د لرنوني يونان د استادانو دا خبره ووايي چې:

«نه افراط، نه تفريط: طلايي منځلاره!»

د ده دا لاندې پيام د پاسنۍ پاليسۍ يوه ښه بېلګه کېدای شي:

«په يوررژيم، ګوند او قوم کې «مطلق ښه والی» يا «مطلق بدوالی» نشته. موږ عادت شوې يو چې يا يوررژيم، ګوند يا قوم ته يا «مطلق ښه» وايو يا «مطلق بد».

زموږ همدغه غلط فکر دی چې د «مطلق حُب» يا «مطلق بُغض» ترتاثيرلاندې، يا هررژيم، ګوند يا قوم يا مطلق تايدوو او يوه بدې ئي هم نه وينو، او يا ئي مطلق ردوو او يوه ښېګڼه ئي هم نه وينو. همدغه مشکل دی چې موږ ئي په ټوټو ويشلې يو.

موږ بايد په خپل قضاوت کې «منصف اوعادل» واوسو. ښه ته ښه او بد ته بد ووايو. کيدايشې له «مطلق حُب» او «مطلق بُغض» سره خداي په امانې، موږ «اتفاق» ته ورسوي.»

ډاکتر بادام شفق په خپله سياسي لاره کې د يو ډاډمن او روښانه ملي درېځ په درلودلو سره نه له خپله هوډه تېر شو او نه يې د مقام او شهرت له پاره خپله لاره بدله کړه، بلکې خلکو او وطن ته د خدمت له پاره پر خپله ژمنه ترپايه ودرېد.

### ۵ ــ ليکوال بادام شفق:




ډاکتر بادام شفق قلم په څوکه، د خپلو علمي زدکړو، کار او علمي فرهنگي تجربو په پایله کې د خپل مسلک یعنې طبابت او ټولنیز ــ سیاسي ژوند په ډگر کې څو کتابونه لیکلي دي چې نومونه یې دا دي:

۱- مزاجي ناروغۍ ( خفگان اومست لیونتوب): ددانش مطبعه ، ۱۳۹۰ ل کال / ۲۰۱۱ م

۲- دماغي سکتي، د افغانستان د ملي تحریک فرهنگي څانگه،۱۳۹۴ ل کال/۲۰۱۵ م

۳- خپگان ــ مست لیونتوب او بیخوبي، د افغانستان دملي تحریک فرهنگي څانگه،۱۳۹۴ ل کال/۲۰۱۵ م

۴ـ د «تنفسي ناروغۍ او توبرکلوز» په نوم، د پوهاند محمدناصر شینواري پر اثر باندې د نوو زیاتونو او سمونو سره، نوی نظر او نشر ته د کتاب تیارول، ۱۴۰۲ ل کال/۲۰۲۳م

۵ـ ځما د ژوند رښتینې قیصه، ناچاپه اثر.

دغه راز بادام شفق په افغانستان کې د وخت له غوښتونو سره سم یو شمېر مسلکي طبي مضامین لیکلي دي چې د وخت په ځینو موقوتو نشریو خپاره شوي دي.

د ډاکتر بادام شفق زدکړې، علمي ــ فرهنگي کارونه په لومړي گام کې د خپلې کورنۍ له پاره سرمشق شوې، بیا یې د کلي او ټولې ولسوالۍ لەپاره د ډیوې بڼه غوره کړه. ښه بېلگه یې د ده کشر ورور ډاکتر صاحب شیرحسن دی. شیرحسن هم د مشر ورو (ډاکتر بادام شفق) پر لاره روان او یو دانشمند شخصت ورنه جوړ شو.

ډاکتر شیرحسن د خپل مشر ورو ډاکتر بادام شفق د سیاسي، علمي، فرهنگي شخصیت په باب داسې لیکلي دي:

«مشر ورور مې ډاکتر بادام شفق د طبابت په سپېڅلي مسلک کې له ۴۷ کاله خدمت وروسته د مې میاشتې په دریمه نېټه په ډنمارک هېواد کې له رسمي کاره تقاعد واخیست.

د ورور د شخصي او کاري ځانګړتیاو په باب څه لیکل ګران وي، هر څه چې ولیکل شي، لوستونکي یې د ورور لپاره لیکنه بولي او په هره خبره کې د ورور عواطفویني.

مګرمعروف قول دی چې وایي: «توره د ورور لپاره وهه او خبره د خدای لپاره کوه»، دلته د تورې میدان نه دی، نو خبره د خدای لپاره کوم، چې ډاکتر شفق بې حده زیارکښ انسان دی. زموږ د کورنۍ په ډېره غریبۍ او تنګ لاسۍ کې زموږ له سیمې او ولسوالۍ څخه چې هغه وخت علاقه داری وه، لومړنی کس و چې د زده کړو له پیله تر پایه اول نمره و، هغه وخت د طب پوهنځي ته بریالی شو او اول نمره فارغ شو. دا خبره ښایي اوس د ځوان نسل لپاره بابیزه معلومه شي، خو هغه د بادام شفق د ټولو همزولو لپاره شاهکار و.

ډاکتر شفق په هماغه اندازه چې په مسلکي زده کړو کې مخکښ و، په مدني ، ټولنیزو چارو او سیاست کې یې هم پراخ لاس او فعالیت درلود. په سیاسي سیالیو او مقابلو کې ډېر کړاوونه ورته پېښ شول، خو له هرې ستونزې سرلوړی راوتلی او زه یې د کشر ورور او شاګرد په توګه هیڅ وخت کې د ماتې او ناهیلۍ شاهد نه یم.

وروستي ۲۵ کاله چې په ډنمارک اوسېږي، له هر ډول رخصتۍ او تفریح پرته په مسلسل ډول په روغتونو کې په رسمي کار بوخت و، د دې تر څنګ د ډنمارک په اغوس ښار کې، د افغانانو د پېوستون فرهنګي ټولنې مسؤلیت هم لري. د افغانستان په اوږده سیاسي کشاله کې تل د یو ډاډمن او روښانه ملي دریځ خاوند دی. تل مې په نفس حاکم، په ځان ډاډمن او ابرومند لیدلی دی.

د مشر ورور، زموږ د کورنۍ د لومړي لوستي، مخکښ او زما د لارښود په توګه ډاکتر بادام شفق ته د هغه د رسمي کار د بریالي پای ته رسېدو مبارکي وایم، ژوند یې لکه د تېر په څېر ابرومند، نېکمرغه او له بوختیاو ډک غواړم!»

په اوسني وخت کې که د ډاکتر بادام شفق نظریاتو ته تم شو، لیدل کېږي چې دی د یو متعهد او بامسؤلیته فرهنګي په توګه د خپلو خلکو او ټولنې پر ستونزو باندې پوهېږي او د رامنځته شوو ستونزو له پاره خپل نظر څرګندوي او د حللارو وړاندیز هم کوي.

د ۲۰۲۱ ام په اګست کې په افغانستان کې د سیاسي نظامي بدلون په اثر زموږ په ټولنه کې د مثبتو بدلونونو ترڅنګ منفي بدلونونه هم رامنځته شول چې یو یې تر ښېړم ټولګي پورته د نجونو د ښوونځیو تړل و. له دې ستونزې سره بادام شفق د یوه ریښتني رونړاند په توګه له هماغه پیل نه خپل دریځ څرګند کړ. د نجونو ښوونځیو د تړلو پرضد ودرید. په خپله فیسبوکپاڼه کې یې په متواتر ډول خپله مبارزه جاري وساتله او په ښکاره ډول یې د نجونو د تعلم پلوي وکړه، ترشپږم پورته یې د نجونو د تړلو ښوونځیو د پرانستلو غوښتنه وکړه، دا یې د یادو پوستونو یوه بېلګه ده:

«ټوله دنیا او حتی اکثریت طالبان وايي چې دمکتبونو دروازې دې د نجونو په مخ خلاصې شي، کنه څوک مو امارتممارت په رسمیت نه پیژني. خوکوم سرتمبه څوک موك شته چې د اخرې فیصلې واک ورسره دی، دا خبره نه مني.

څه دنیا به ورانه شي چې دا نجونې مکتب ته لاړې شي او تعلیم او تحصیل وکړي او په راتلونکی کی ډاکترانی، معلمانی، نرسانې، پولیسانې او.. او... شی، خپل وطن ته خدمت وکړی؟ زه خو پدي نپوهیږم که تاسې پوهیږئ، پوه می کړئ!»

ډاکتر بادام شفق د خپل وطن له فرهنګ او فرهنګیانو سره بېساري مینه لري، د خپل وطن د قلموالو له ژوند، اثار او افکارو سره پوره اشنايي لري. په اکثرو فرهنګي محافلو کې ګډون کوي او تر خپلې وسې پورې خپله وطني او فرهنګي دنده ترسره کوي، د فرهنګیانو په خوښي خوشخاله کېږي او په غم او مړینه یې خواشیني څرګندوي. دا لاندې د استاد بختاني خدمتګار د مړینې په پار د ډاکتر بادام د تسلیت پیام دی:

«د پوهې او ادب له اسمانه یوبل ستوری پریوت:

خدایبښلی عبدالله بختانی ستر ادیب، شاعراو په وطن مین سیاست پوه و.

د ده دخوږوواوزړه راښکونکو اشعارو، ادبې لیکنو او د ده د سنګینې څیرې او خواږه زړه راښکونکې غږ سره ان څه کم دوه پنځوس کاله مخکې، هغه وخت چې لا تنکی ځوان او د ننګرهار په دارالمعلمین کې شاګرد وم، بلد شوم.

د ده اشعار او لیکنې به مې د ننګرهار په ورځپاڼه کې لوستلې او خوند مې ترې اخیست. دی مې لومړی ځل د١٣٤٥ کال په پسرلنۍ مشاعره کې ولیده او د ده پخپل ښکلې اواز کې مې د ده خپل د پنده او خونده ډک شعر واورید. له هغه وخته مې بختياني صیب په زړه کې ځاې ونیوه. زمونږ ښوونکو هغه وخت ویل چې بختیانی صیب د (ویښوزلمیانو) پخوانی غړی او ډیر په وطن مین او پاک انسان دی. دې خبرو هم زما په زړه کې د ده او د ده د اشعارو او لیکنو سره مینه لا زیاته کړه.

دې هوښیار، درانه لیکوال او د پښتو ادب ځلانده ستوري د وطن د بچیانو په بیدارۍ کې دومره خدمت کړی او دومره اثار ورځخه په میراث پاتې شویدي چې په رښتیا سره ئي د پښتو ادب ځلانده ستوری وبولو او یادئي همیشه ژوندی وساتو.

خداې دې بختیاني صیب ته جنتونه ورکړې او ټولې کورنۍ او دوستانوته ئي تسلیت عرض کوم. د بختیاني صیب یاد دې تلپاتې او روح دې ښاد وي.»

د دې مقالې د لیکلو په وخت کې ما ته د ډاکتر بادام د ژوند، علمي او فرهنګي ـ سیاسي کارونو د لاروښانولو له پاره، یوشمېر پوښتنې په ذهن کې پیدا شوې، بشپړ متن یې دا دی:

ډاکتر بادام شفق ته سلامونه او درناوی!

هیله ده هرڅه ښه وي.

ما هوډ کړی دی چې ستاسو د علمي فرهنګي ــ سیاسي فعالیتونو په باب د یوې مقالې په چوکاټ کې څه ولیکم. د علمي فرهنګي مهربانۍ له مخې دا پوښتنې په لنډ ډول راځواب کړئ:

ــ که کېدای شي د خپلو سیاسي فعالیتونو په باب یوڅه راته ولیکئ،

ــ په افغانستان کې او په ډنمارک کې مو څومره او څه ډول فرهنګي کارونه ترسره کړي دي؟

ــ له بیوګرافۍ نه مو ښکاري چې تاسو د افغانستان په دوو پوهنتونونو کې د علمي کدر غړیتوب درلود، تاسو تر کومې علمي درجې پورې رسېدلي وئ؟ او کوم مضامین مو تدریسول؟

ــ ستاسو یوشمېر علمي اثار چې په بیوګرافۍ کې یاد شوي دي، ایا له هغو پرته مو نور اثار او علمي ــ فرهنګي مقالې لیکلي دي که نه؟ که هو، نومونه او د خپرېدو کال او ځای یې کوم دي؟

له مرستې نه مو همدا اوس مننه!

آصف بهاند

د ۲۰۲۴ ام کال د مې میاشت اولسمه نېټه

هیدرسلیف

ډنمارک

پاسنۍ پوښتنې مې له ډاکتر بادام سره شریکې کړې او هغوی هم په عالمانه او دوستانه مهربانۍ سره زما پوښتنې په تفصیل سره راځواب کړې چې زه همدلته مننه ورنه کوم. ما د ده له رالېږلو معلوماتو څخه د مقالې په مناسبو ځایونو کې استفاده کړېده.

ډاکتر بادام شفق د خپل ژوند له پیل نه تراوسه د عجیبو ستونزو په دایره کې رالوی شو، زدکړې یې کړي دي، سیاسي اړودوړ لارې ورته تتې کړې دي او د پرمختګ لارې یې ورته ترلي دی او... خو حقیقت دا دی چې ده همت نه دی بایللی، تل یې هڅه کړې او د ژوند په ډېرو کړاوجنو حالاتو کې یې هم د زدکړې او پوهې ډیوه له لاسه نه ده غورځولې.

دا د ډاکتر بادام شفق د خولې خبره ده چې ما ته یې ویلي دي: «زه په ډېرو ستونزو د ښوونځی په دروازه ورننوتلم، له خپل کوره لرې د خپلوانو په کور کې، ښونځی ته د تګ په خاطر دېره شوم او د ډېرو بدو شرایطو په دایره کې مې خپل سبقونه پرمخ وړل.»

بادام شفق د همداسې شرایطو په منلو سره بیا هم د خپلو همځولو په ډله کې په پرلپسې ډول اول نومره‌گي ترلاسه کړه، ترڅو چې د پوهنتون په دروازو ورننوت او هلته یې هم خپله اول نومره‌گي وساتله، ترڅو چې ځان یې د علمي کادر حلقې ته هم ورساوه.

ډاکتر شفق په دې ډول د تعلیم ډېوه لومړی خپل کور، بیا خپل کلي او بیا خپلې درې ته ورورسوله او دا ډیوه یې په خپلو لارو کې بله وساتله او تر نن پورې د همدې ډیوې په رڼا کې ژوند کوي.

پای

www.dawatmedia24.com